# لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «په دنيا کې هېڅ بنده د بل بنده پرده نه کوي مګر دا چې د قيامت په ورځ به الله تعالی د هغه پرده وکړي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». «په دنيا کې هېڅ بنده د بل بنده پرده نه کوي مګر دا چې د قيامت په ورځ به الله تعالی د هغه پرده وکړي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هېڅ مسلمان په يوه چاره کې د خپل مسلمان ورور پرده نه کوي مګر دا چې الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ پرده وکړي؛ ځکه چې سزا د عمل له جنس څخه ده، او ده لره به د الله تعالی پرده دا وي چې عيبونه او ګناهونه به يې د محشر په ورځ خلکو ته نه رسوا کوي، او يا دا چې حساب به يې ورسره نه کوي او ورته به يې نه يادوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3777